مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

ډاکتر ش میره کی

۲۰۲۶/۰۵/۰۳

# د ښځینه او نارینه

## د زړه څو حیرانونکي توپیرونه

رانو دوستانو ! ښځینه او نارینه د فزیک او اناتومي له پلوه یو له بله سره یو څه توپیر لري لکه غږ ، پوست ، غښتلتیا ، غټوال او داسې نور ، نو دلته مه د طب له پلوه د دواړو جنسو د زړه د پرتله کیدلو په حصه کې یو معلومات درته برابر کړی ده ، هیله ده څه خوښ مو شي .

ښځینه او نارینه د زړه څو حیرانونکي توپیرونه

ډیر وخت چې د ښځینه او نارینه د توپیرونو په هکله خبرې کېږي نو خبره چې هرڅومره تاوراتاو شي ببرته دې ته راځي چې ښځه احساساتي ده، عاطفه یې ډېره ده، زړه یې نرم دی او نور، خو په دې هکله، د زړه په هکله طب څه وایي، پدې لیکنه کې په همدې توپیر خبرې کوو.

د نارینه زړه په فزیکي ډول د ښځو د زړه څخه غټ دی، د زړه وزن د بدن د وزن په پرتله تخمین کېږي، په نارینه و کې د کیلو په سر ۵,۷ گرامه خو په ښځینه و کې بیا ۴,۸ گرامه دی، په دې نسبت د ښځو د زړه وزن په عموم کې ۲۸۰-۲۰۰ گرامه او د نارینه و ۳۹۰-۲۵۰ گرامه وي.

د یوې ښځې زړه د خپل بدن د اړتیا وړ اوکسیجن ترلاسه کولو لپاره د نارینه د زړه څخه ډېر غورځي، په یوه دقیقه کې د ښځو زړه په اوسط ډول ۷۰ ځل غورځي او د نارینه و د زړه لپاره بیا دا اوسط ۶۰ دی.

نارینه تر ښځو زیات د زړه په ناروغۍ اخته کېږي، د زړه د ناروغۍ تشخیص ۴۷ نارینه و ۴۲ سلنه ښځینه ، خو توپیر دا دی چې په ښځو کې د زړه ناروغي ډېر وخت تر نارینه و سخته تېرېږي.

په ښځو کې د زړه د ناروغیو څخه د ژوند د لاسه ورکولو سلنه اته سلنه لوړه ده، ددې سبب د ښځینه و کم معلومات دي، دوی ډېر وخت د زړه د ناروغیو په نښو سمې نه پوهېږي او په غلط ډول یې تعبیر وي.

هغه ښځې چې د شکر یا دیابت ناروغي لري او ترځنګ یې د زړه په ناروغۍ هم اخته شوې وي د همدې ډول نارینه و په نسبت یې د ژوند له لاسه ورکولو کچه پنځوس سلنه زیاته ده، څېړنې وایي چې دیابت په ښځو تر نارینه و ډېر ژور اغېز پرې باسي.

ښځې تر نارینه و په ځنډ د رګونو په ناروغۍ اخته کیږي، د مثال په ډول ډېري نارینه چې په پنځوس کلنۍ د رګونو ناروغ کېږي ښځې په شپېته کلنۍ په دې ستونزو اخته کېږي.



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنيزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ

د زړه د حملې نښې په ښځو کې متفاوتې دي، د مثال په ډول په نارینه و د زړه د حملې نښه ډېر وخت د سینې په چپ طرف کې شدید درد وي، خو په ښځو کې بیا ډېر وخت مسله دا وي چې ددوی د نس پورتنۍ برخه درد کوي، یا زیات د زړه بدوالی لري او دې ته ورته نور.








افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولــئ